# خوشحال خان خټک د اسلامي شریعت علمبردار

# Khushal Khan Khattak: the Bannerer of Islamic Sharia

Dr. Nagina Khanum Nagin*
Rahim Bahadur**

**Abstract:**

Pashtun soil has the potential to give birth to eminent Pashto heroes who remained to be the identical symbol of this soil. The Great Khaushal Khan Khattak is one of them who remained to be a very good fighter, poet, hunter, physician, historian, politician at the same time. Khushal Khan was born in 1613 at Akora Khattak at the house of Shehbaz Khan who was the son in law of Malik Akori remained the fourth chief of Akori tribe. Khushal Khan Khattak was a true Islamic Lover. Pashtuns are Islamic minded by birth, their values, norms called Pakhtunwali reflect the Islamic principles and teachings, had already been in practice by them even before the advent of Islam. *Hujra, Jumat, Jarga* are the three dimensional pillars of Pakhtunwali remained to play a vital role in Pashtuns life, is also Islamic one in origin. Such values and norms have not only being practiced by the ordinary Pashtuns but are transmitted from one generation to other with regards and respect. Khushal Khan Khattak can be called the pioneer for introducing such norms, principles in his poetry, reflect not only Pashtunwali but also represent Islamic values. In this paper the norms and values being described by the Great Khushal replicates the Islamic Sharia in the context of Sharam, Haya, Shegara, wafa, izzat, pat, nang, ghairat etc will be analyzed in depth.

**Keyword:** Sharia, , Pashtunwali, Hujra, Jumat, Jarga, Sharam, Haya,wafa,  pat,nang, ghairat

پښتنې خاورې ډېر لوے لوے اتلان زېږولي دي چې د پښتون قام نامه ئې روښانه کړې ده او پښتو ادب ته ئې وده ورکړې ده. د پښتنو په تاریخ کښې یو نوموړے اتل خوشحال خان خټک هم یادېږي چې د مغل بادشاه نورالدین جهانګیر په زمانه کښې د دویمې خور کال ۱۰۲۲ هجري او د لمریز کال د مئي یا جون د میاشت په کال ۱۶۱۳ کښې په اکوړه خټک کښې د

* Lecturer Department of Pashto, University of Peshawar
** PhD Scholar  Department of Pashto, University of Peshawar

شهباز خان کره سترګې رانستې. شهباز خان چې د يحيٰ خان ځوی او د ملک اکوړ خان نمسی چې د اکوړي خٹلو رئيس ؤ.[1]

د پښتون فطرت د زيږون نه اسلامي پاتې شوی دی. که مونږ د پښتنو اقدار غيرت، ننګ، توره، وفا، ميلمستيا، حيا، ښېګړه، ورورولي دا ټول په پښتنو کښې د ازل نه ګډ دي او دا ټول خويونه او صفتونه د اسلام بنيادي پړوۍ دي. پښتون چې په کوم ځای کښې استوګنه کړې ده او په کومه لاره چې ئې روغه رغبت کړی دی په هغې کښې حجره، جومات، ګودر، چم ګاونډ، کلي کلوبغي، ننواتې، بدرګه، تيږه او اشر غوبل داسې ځانګړې خوبيانې دي چې پښتون پري د نړۍ په قومونو کښې پېژندګلو لري. د دين اسلام تاريخ که مونږ اوګورو نو حضور ﷺ په پېل کښې خپلې ټولې فيصلې په مسجد نبوي کښې کړي دي. د اولس ستونزي او شخړې ئې په اجتماعي توګه حل کړي دي، کوم چې مونږ ته د حجرې او جومات نه په ډاګه دي. دغه شان حضور ﷺ د خپل چم او ګاونډ د حقونو ډېر خيال ساتلی دی او ګاونډي له خو ئې دومره غټ مقام ورکړی دی چې صحابو دا اوګڼله چې هسې نه چې په ميراث کښې ورته برخه ورنه کړي. دا اثر مونږ ته د پښتنو په اقدارو لکه په چم ګاونډ، ښېګړې کلي کلويغي او اشرغوبل نه ښکاره ده. ددي نه دا څرګنده شوه چې د پښتون بنياد په دين اسلام دی.

پښتون د خپل دين سره بې کچه مينه لري. په دغه مينه کښې د پښتنو يو شمېر اتلانو خپلې ځوانۍ خاورې کړي دي. زمونږ د نړۍ يو نابغه اتل خوشحال خان خټک هم تېر شوی دی. که د خوشحال بابا کار او زيار اوګورو نو خلق ورته ګوته په خوله پاتې شي چې يواځې انسان په يو وخت دومره ډېر هنرونو اوکارونه کړي دي چې هغه د يو ټولګي د کولو هم نه دي. هغه په يو وخت ستر اديب، طبيب، نوموړی ننګيالی جنګيالی، کمالي ښکاري، د نسواني حسن شيدائي، لوئی سياست دان، د خپل قوم مشر او مفکر هم وو. په دغه خوبيانو کښې يوه غټه خوبي د اسلامي شريعت يو منلی علمبردار هم تېر شوی دی.

خوشحال او اسلامي شريعت:

خوشحال بابا د خدائی او رسول سره بې کچه مينه لرونکی وو. سره د خانۍ او سردارۍ د خپل مذهب نه ئې چرته تېروتنه نه ده کړې. د دومره سوکالۍ سره سره يو عاجز خويه او درويش صفت انسان وو. د خپل خدائی پاک نه کومک غواړي او دا عين د الله پاک حکم دی چې په خپل کلام کښې د مومنانو په حقله څه دا رنګه وېنا کړې ده:

اِیَّاكَ نَعْبُدُ وَ اِیَّاكَ نَسْتَعِیْنُ.[2]

ترجمه: او خاص تالره عبادت کوو مونږه او خاص ستا نه مدد غواړو مونږه.

چې مسلمان وي د هغه به دا کلکه عقیده وي چې د غوښتنې ذات یک یو الله دے. دهغه نه به کومک غواړي او دا عاجزي به کوي چې د هر مقصد پوره کولو واله ذات یو الله دے.

خوشحال بابا هم د اسلام په دے مهمو او ټاکلي اصولو باندې په خپله هم کلک اولاړ وو او خپل قوم ته ئې هم ددې پوهه او تعلیم ورکړے دے لکه وائي:

زه مدد غواړم له تا نه اے زما خدایه احده
که مدد دې راسره وي چار به نه شي زما بده
زۀ عاجز مرئې د تا یم ستا په فضل به تا ستا
یـــــــــــــــم
ستا ثنا صفت به وایم څو زۀ توان لرم بې
حـــــــــــــــده[3]

د یو پوخ مسلمان دا خاصه ده چې هغه به د خدائے پاک د یو والي او ثنا صفت سره سره د خپل رالیږلي شوي خوږ پیغمبر حضرت محمد ﷺ شان هم بیانوي. او په خپل فکراو سوچ کښې به هم یو والے راولي. د حضور ﷺ سره د مینې او محبت په حقله یو حدیث شریف دے چې:

لا یُؤْمِنُ أحدُکم حتی أکُونَ أحَبَّ إلیه مِن وَلَدِہ، ووالدہ، والناس أجمعین.[4]

ترجمه: په تاسو کښې یو کس د هاغه وخت پورې کَامل مومن نه شې جوړیدے تر څو چې د هغه مینه د حضور ﷺ سره د خپل مور پلار، اولاد او ټولو خلقو نه زیاته نه وي.

خوشحال خټک هم په دې حدیث شریف سل په سله عمل کړے دے. هغه د حضور ﷺ پیژندنه د الله پاک پیژندګلو ګڼي او په دې حقله ئې داسې وینا کړي ده چې نن هم ورته ډیرخلق ګوته په خوله پاتې شي هغه وائي:

د خدائے عرفان مې اوشو په عرفان د محمد ﷺ
پـــاک دے محمـــد ﷺ پـــاک دے ســـبحان د
محمـــــــــــــــــــد ﷺ
راشـــه نظـــر اوکـــړه پـــه طٰـــه پـــه یـــا ســـین بانـــدې

خـدائـې دې صـفـت کـړے پـه قـران د محمـد ﷺ[5]

خوشحال بابا د وحدت الوجود د نظرئې قائیله وو. هغه ته په هر څه کښې د الله پاک شان او شوکت جلوه ګر په نظر راتلو. په دې حقله خوشحال بابا وائي:

پــه هــر څــه کښــې ننــداره د هغــې مــخ کــړم
چــې لــه ډېــرې پېــدائۍ نــه ناپدیــد شــو[6]

خوشحال بابا ځان یو سني مسلمان بولي څنګه چې یو مسلمان له دا مهمه خبره ده چې هغه به د خدائے، د هغه د رسول او د څلورو واړو یارانو سره بې کچه مینه لري. خوشحال بابا هم په خپل کلام کښې دغه مینه په دا رنګ بیان کړې ده:

کـــه پـــه مینـــه د صـــدیق ولاړ صـــادق یـــم
هســـې مـــه ګڼـــه پـــه مهـــر د عمـــر
پـــه عثمـــان بانـــدې پـــه څـــه وایـــم چـــې څـــه یـــم
پـــه هـــزار رنګـــه مـــین یـــم پـــه حیـــدر
محبـــت د خانـــدان لـــرم پـــه زړه کښـــې
دولـــس واړه امامـــان مـــې دي بصـــر
پـــاکیزه ســـني مـــذهب یـــم نـــور څـــه نـــه یـــم
چـــې مـــې نـــور څـــه ګڼـــي خـــاورے ئـــې پـــه ســـر
زهٔ خوشـــحال چهـــار یـــاري یـــم خـــوښ لـــه خدایـــه
چـــې ســـني راغلـــم پـــه دیـــن د پیغمبـــر ﷺ[7]

۱. روژه:

د اسلام په پنځوو بنیادونو کښې روژه دریم رکن دے. الله تعالې په خپل کلام قران کریم کښې د روژې په حقله وائي:

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ.[8]

ترجمه: اے هغه کسانو چې تاسو ایمان راوړے دے په تاسو باندې روژې فرض کړے شوې دي لکه څنګه چې ستاسو نه په وړاندې خلقو باندې فرض کړے شوې وې دپاره ددې چې تاسو د الله پاک نه ویره اوکړۍ.

خوشحال بابا د روژې په حقله خپل علم داشعارو په ډول داسې وړاندې کړې دے:

خـــــدا ے بـــــه لـــــس ځیزونـــــه ورکـــــه
شـــــک پـــــه دا مګـــــر کـــــافر کـــــه
لکـــــه اوزیـــــږي لـــــه مـــــوره
تـــــازه وړوکـــــے زمـــــا روره
لـــــه ګنـــــاه بـــــه هســـــې خـــــلاص وي.
چـــــې روژه ئـــــې پـــــه اخـــــلاص وي.[9]

په دې حقله حدیث شریف کښې راغلي دي چې:

مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ [10]

ترجمه: چاچې د ایمان په حالت او د ثواب په نیت روژه اونیوله د هغه به مخکښې او وروستو ټول ګناهونه اوبخښلے شي.

دغه شان په روژه نیولو چې انسان ته کوم مقام مېلاویږي او الله تعالې پرې بنده لره څه ورکوي د هغې په حقله خوشحال بابا داسې وینا کړې ده.

بـــــل پـــــه هـــــره روژه جانـــــه
د ے بـــــه ورشـــــې تـــــر جنانـــــه
د یـــــاقوت محـــــل بـــــه مـــــومي
لـــــه جهانـــــه بـــــه خـــــوش درومـــــي
بـــــل کـــــه تنـــــده وي کـــــه لـــــوږه
د قیامـــــت بـــــه وي پـــــري لـــــږه
بـــــل بـــــه خـــــلاص وي لـــــه هیبتـــــه
غـــــم بـــــه نـــــه کـــــا لـــــه قیامتـــــه[11]

دغه شان که مونږ اوګورو نو په روژه کښې اعتکاف یو داسې واجب عمل دے چې د محلے نه به یو کس خامخواه د اعتکاف په نیت د روژې اخري لسو ورځو کښې د خلقو نه ډډه کوي او خپل تعلق به د یک یو الله سره جوت ساتي. خوشحال خان خټک هم د اعتکاف په باره کښې وائي:

پـــــه روژه کښـــــې اعتکـــــاف شـــــته
فکـــــر ذکـــــر حـــــق انصـــــاف شـــــته
اعتکـــــاف د ے پـــــه دوه شـــــانه

تـــــه ئـــــې ونغوګـــــه لـــــه مانـــــه
یـــــو واجـــــب بـــــل فضـــــایل دے
پـــرې بـــه پـــوه وي چـــې عاقـــل وي [12]

د وطن مینه:

هر انسان د خپل وطن سره بې کچه مینه لري. الله تعالي په خپل کلام کښې هم د وطن د میني په باره کښې د حضرت ابراهیم علیه السلام د مکې ښار د امن غوښتو په باره کښې فرمائي:

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا الْبَلَدَ اٰمِنًا وَّاجْنُبْنِيْ وَبَنِيَّ اَنْ نَّعْبُدَ الْاَصْنَامَO[13]

ترجمه: او ابراهیم علیه السلام وفرمائیل چې دا ښار "مکه" ځاے د امن اوګرځوے. او زما او زما اولاد د بتانو د عبادت نه اوساتې.

دغه شان زمونږ خوږ نبي ﷺ د وطن د میني په باره کښې کښې چې کله خبر اوشو نو هغه اوفرمائیل چې:

اَوَ مُخْرِجِيَّ؟[14]

ترجمه: هغه به ما د خپل وطن نه اوباسي؟

خوشحال بابا د الله تعالي په حکمونو او د رسول ﷺ په اطاعت کښې څه کمے نه وو پریښے ځکه هغه په خپل کلام کښې وائي:

د وطـــــن مینـــــه اے جانـــــه
راپیـــــدا ده لـــــه ایمانـــــه
هغـــــه ملـــــک د زړه ارمـــــان دے
چـــې پکښـــې دے ښـــه یـــاران دے [15]

زمونږ دین اسلام مونږ ته دا ښائي چې دا دنیا فاني ده. الله تعالی ټول انسانان دې دنیا ته د یو خاص مقصد او ټاکلي وخت پورې رالیږلي دي. هغه انسانان چې په دې دنیا کښې د انسانیت له خیر ښیګړې په اړ خپل کردار لوبوي د هغو او هغه انسانان چې نورو له ضرر رسوي د دې ټولو سره به حساب کتاب کیږي او کره کوټه به معلومیږي. د دغه ټاکلي وخت پوره کیدو نه وروستو به دا دنیا ختمه کړے شي او د دې نه پس به یوه بله دنیا شروع کیږي چې هغې له یوه لویه ورځ ورکولے شي چې روز محشر ورته وائي. ډیر خلق د دې ورځ او په دویم

هیر پورته کېدو نه منکر دي. الله تعالی په خپل کلام کښې ددې ورځ او حساب کتاب په حقله داسې فرمائي:

قَالَ مَنْ يُّحْيِ الْعِظَامَ وَ هِيَ رَمِيْمٌ قُلْ يُحْيِيْهَا الَّذِيْٓ اَنْشَاَهَآ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَ هُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيْمٌ[16]

ترجمه: اوئيل هغه کس څوک به دا هډونه رایوځائے کړي چې زړې زړې شوي وي. ته ورته اوویه اے پیغمبره ﷺ چې هاغه الله به تاسو په دویم ځل داسې راپورته کړي لکه څه رنګه چې په اول ځل ئې زېږولي وی.

دغه شان په دې ورځ باندې به د عملونو وزن کېږي. د کومو خلقو چې د نیک اعمالو وزن درون وي هغه به کامیاب شي او د کومو خلقو چې وزن کم شي هغه به په زیان کښې شي. په دې حقله الله تعالی په خپل پاک کلام کښې فرمائي:

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِيْنُه فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ. [17]

ترجمه: او د وزن تلل په دغه ورځ باندې حق دي. د چا چې د نیک عملونو تله درنه شوه پس دغه خلق کامیاب شو.

خوشحال بابا په خپله شاعرۍ کښې دا هر څه داسې بیان کړي دي چې بیخي د قران مجید د پورته ایاتونو ترجمه ئې په ډېره اسانه لاره کړې ده او هاغه خلقو ته پکښې لارښودنه ده کوم چې د محشر د ورځې نه انکار کوي لکه وائي:

حشـــــرحق دے وبـــــه شـــــینه
نیـــــک و بـــــد بـــــه مـــــو تلینـــــه
اویزانـــــده بـــــه کـــــا تلـــــه
عـــــدالت بـــــه کـــــا پخپلـــــه
کـــــه نیکـــــي زیاتـــــه وي څـــــومره
چـــــې د ژدنـــــو دانـــــه هـــــومره
هغـــــه کـــــس بـــــه جنتـــــي شـــــي
پـــــه حســـــاب بـــــه فرحتـــــي شـــــي
چـــــې ئـــــې تلـــــه ســـــپکه شـــــینه
و دوزخ لـــــره بـــــه ځینـــــه[18]

کوم خلق چې د الله تعالی په رالیږلي شوي حکمونو باندي عمل نه کوي دغه خلق به الله تعالی د ناکامۍ سره مخ کړي. د الله تعالی د حکمونو نه سرغړونه کول د ګناهونو کول

دي. کوم خلق چې څومره ګناهونه کوي هغه هومره به د دوزخ د عذاب سره مخ کېږي او کوم خلق چې بېخي منکر دي دغه خلق خو به همیشه د دوزخ په اوور کښې وي. الله تعالٰی په دې حقله فرمائیلي دي:

**وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ** [19]

ترجمه: او هاغه کسان کوم چې کافران دي او زمونږ ایاتونه ئې دروغ ګڼلي دي دغه کسان به د همیشه له پاره په دوزخ کښې وي.

خوشحال بابا هم د خدائے پاک دې حکمونو ته د نظم رنګ ورکړے دے او په دې حقله ئې یو ځانګړے باب راوړے دے چې د "خلود د اهل النار" په نامه یادیږي. هغه په دې باب کښې داسې وائي:

چــې ظــالم دے یــا فاســق دے
د دوزخ د اوور لائــــــــق دے
کـــــه کــــافر د حقیقــــت دے
مــونځ پــرې روغ پــه شــریعت دے
پـــه دا بـــاب قـــران نـــاطق دے
خلاص بـه نـه شي چې فاسق دے
جـــاودان بـــه ئـــې عـــذاب وي
پـــه دوذخ کښـــې بـــه کبـــاب وي
څـوک چې امـر د خـدائے نـه کـا
پـــه خـــلاف د رســـول تلـــه کـــا
پـــه دنیـــا بـــه ئـــي مـــخ تـــور وي
په قیامت بـه ئې ځـائے اوور وي[20]

اسلام د ژوند د هر اړخ ترجماني کوي. د انساني ژوند داسې یو اړخ نیشته چې د هغې په حقله به په دین اسلام کښې لار ښودنه نه وي شوي. دغه شان دین اسلام مور اور پلار ته یو لوړ مقام ورکړے دے او الله تعالٰی په خپل کلام کښې د مور پلار د حقونو په اړ داسې فرمائي:

**وَ قَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِیَّاهُ وَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا یَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَاۤ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِیْمًا** [21]

ترجمه: او فېصله کړې ده رب ستا چې د يو الله نه سېوا د بل هيڅا عبادت مه کوه او د مور او پلار سره ښه سلوک کوه. که چرته په دوي کښې يو کس يا دواړه بوډا والي ته اورسي نو دوي ته تش اُف هم مه وايه او دوي ته خوږې خوږې خبري کوه.

خوشحال بابا هم د مور پلار د حقونو په باره کښې خپله وېنا د قلم څوکو ته سپارلې ده او وائي:

دا خبـــر د پېغمبـــرﷺ د ے
تـــــواتر د ے معتبـــــــر د ے
چې عاصي د مـور او پـلار وي
لـه هغـه بـه خـدا ے ويـزار وي[22]

الله تعالیٰ انسان د ټولو نه غوره مخلوق زېږولے د ے. دا دنيا مکافات عمل د ے. د ښه عمل الله تعالیٰ انعام ورکوي او د بد عمل سزا ورکوي. انسان په خپل عملي ژوند کښې ښه کارونه هم کوي او بد هم خو غوره انسان هاغه د ے چې هغه د بدو کارونو نه ډډه اوکړي ولې الله پاک انسان کمزور ے پېدا کړے د ے. د انسان نه به د ژوند په هر ډگر کښې گناهونه او خطاگانې کېږي او الله پاک ته هاغه څوک غوره دي چې هغه په خپل گناه باندي پښېمانه شي او د خدا ے پاک په در کښې توبه اوباسي. الله تعالیٰ د توبه ويستونکي انسان په حقله داسې فرمائي:

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا .[23]

ترجمه: ا ے هاغه خلقو چې تاسو ايمان راوړ ے د ے خپل خدا ے پاک ته د نصوح په شان توبه اوباسئ.

دغه شان په حديث شريف کښې د الله تعالیٰ رسول ﷺ داسې فرمائيلي دي:

التائب من الذنب کمن لا ذنب له.[24]

ترجمه: توبه ويستونکے د گناه نه داسې وي لکه ده چې گناه هډو کړ ے نه وي.

خوشحال بابا چې يو کلک مسلمان ووگناه ته په سپک نظر گوري ولې د انسان کمزوري ئې هم په مزغو کښې ده. هغه دغه انسانانو له د گناه نه د خلاصي لار د اسلامي شريعت په رڼا کښې گوري. بابا د گناه اوپه گناه باند د پښېمانه کيدو باره کښې داسې وائي:

کبيـــــره گنــــاه چــــې وکــــا
خــوار شــه د ے کــه توبــه نــه کــا

کــه توبــه ئــې پــه اخـــلاص وي
لـــه دوزخ نـــه بـــه خـــلاص وي
د عاصـــــي توبـــــه قبليـــــږي
مغفـــــرت وربانـــــدې کېـــــږي
چـــې توبـــه ئـــې د نصـــوح وي
د تـــوبې بـــه ئـــې فتـــوح وي[25]

اسلام په انساني عمل کښې سوچه والے غواړي او د عمل په يو اړخ هم ځان ښوونه او ريا نه غواړي. کوم خلق چې په يو عمل کښې ځان ښوونه کوي دغه عمل ته په کوز نظر کتلے شوي دي او دغه عمل ئې بې سوده ګرځولے دے. الله تعالی په دے لړ کښې فرمائي:

فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَ ۝ وَ يَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ [26]

ترجمه: داسې مونځ کوونکو له هلاکت دے کوم چې د خپل مونځ د نتائجو نه نا خبره دي او دا خلق ځان ښوونه کوي.

په دې حقله هم بابا ريا ته بد کتلي دي او اخلاص ته ئې په درون نظر کتنه کړې ده. ريا د انسان نيکۍ ختموي. بابا په خپل منظومه شاعرۍ کښې په دې حقله داسې وائي:

هـــر طاعـــت چـــې پـــه ريـــا وي
دا ســـــړي د ځـــــان بـــــلا وي
دا طاعـــت ئـــې هـــم خـــراب دے
ځـــوئـــې کانـــدې لاثـــواب دے
دا ريـــــا ده ډيـــــره بـــــده
تـــــرے مـــــې وســـــاتے احـــــده
د اخـــلاص طاعـــت هغـــه دے
چـــې غـــرض تـــرے پـــه ستنه دے
بـــــے غرضـــــه وي اے يـــــاره
خـــاص ئـــې کـــړه د خـــدائے د پـــاره
لـــه ريـــا نـــه زړه خـــلاص ښـــۀ دے
يـــو ســـجود پـــه اخـــلاص ښـــۀ دے[27]

اسلام د علم، پوهه او ذده کړې ته ډېره لويه پام لرنه لرلې ده. زمونږ خوږ پيغمبر حضرت محمد ﷺ په دې خبره وياړ کړے دے چې زۀ يو استاد رالېږلے شوے يم. د علم او ذده کړې په حقله الله تعالیٰ په خپل کلام پاک کښې فرمائېلي دي:

**قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الَّذِيْنَ يَعْلَمُوْنَ وَ الَّذِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ** [28]

ترجمه: اے يو شان دي هغه کسان څوک چې پوهه لري او هغه کسان څوک چې پوهه نه لري.

په دې حقله بابا هم د علم او پوهې په باب کښې خپل قلم تاند ساتلے دے او څه دا رنګې وينا ئې کړې ده:

فضـــــيلت د علــــــم ډېــــــر دے
تـــــر حســـاب تـــر شــــماره تېـــر دے
چـــــې د شــــــرعې بندوبســـــت دے
داهمـــــــه د علـــــم دســــــت دے
چـــــې کــــرم بانــــدې د خــــدا ے شـــي
زړه هلــــــه د علـــــم ځـــــا ے شــــي [29]

دغه شان د علم او ذده کړې په حقله حضور ﷺ فرمائېلي دي:

**فَتَعَلَّمَ بَابًا مِنَ الْعِلْمِ، عُمِلَ بِهِ أَوْ لَمْ يُعْمَلْ، خَيْرٌ مِنْ أَنْ تُصَلِّيَ أَلْفَ رَكْعَةٍ**

ترجمه: چاچې د علم يو باب زده کړو که په دې ئې عمل اوکړو او که او نه کړو نودا ده له د زرو رکعتونفلو نه غوره دے.

خوشحال بابا د علم طلب کونکو په حقله هم په خپل شعرونو کښې وينا کړې ده او هغه خلق ئې په نورو خلقو باندې غوره ګرځولي دي څوک چې د علم په طلب پسې اوځي. خوشحال بابا په دې اړخ داسې وينا کړې ده:

چـــــې د علــــم پــــه طلـــب ځـــي
کــــه پــــه ورځ ځــي کـــه پــــه شـــب ځـــي
پـــــه هــــر ګـــام بـــــه ثـــواب مـــومي
چـــې تـــر کــــور تـــر مکـــه درومـــي
چـــــې يـــــوه مســــئله ذده کـــــا
خـــدا ے بــــه دے امــــر زيــــده کـــــا

نـــــه هــــزار رکعتـــــه نفـــــل
نـــــه یــــوه مســــئله نقـــــل[30]

په اسلامي تاریخ کښې دحضور ﷺ صحابه کرام رضي الله عنه د الله تعالی په نازل شوي دین خپل هڅې کړې دي او د پیغمبر علیه السلام باندې د خپله سره تېروو او د ځان شیندنې داسې نمونې ئې وړاندې کړې دي چې نن هم د تاریخ په پاڼو کښې لکه د ستورو ځلیږي. ددې اصحابو په حقله حضور ﷺ فرمائېلي دي:

**أصحابي كالنجوم بأيهم اقتديتم اهتديتم** [31]

ترجمه: زما صحابه په مثال د ستورو دي چاچې د کوم یو پیروي اوکړه هغه لار بیاموندله.

د رسول الله ﷺ او د اصحابو عزت کول په مونږ فرض دي. ځوک چې ددوي اقتدا کوي هغه به د الله تعالی په رالیږلي شوي اصولو عمل کوي او چا چې ددې نه سرغړونه اوکړه هغه به د ناکامۍ سره مخ شي. خوشحال بابا چې د اسلام او شریعت په اصولو باندې پوهه مسلمان وو هغه هم د پیغمبر ﷺ صحابو ته په درون نظر کتنه کړې ده او وائي:

د رسول ﷺ چې لوے اصحاب
دي
خـدا یـادکړي پـه کتـاب دي
ســـــابقون الاولـــــــون
راشـــه واروه پـــه غوږونـــه
کـــــه د دوي فضـــــیلتونه
غــــواړے گـــوره ایاتونـــه
هـر اصـحاب ئـې چـې پـه نـوم دے
لار ښــــوني کـــــالنجوم دے

چـې اصـحاب تـه ئـې دشـنام کـا
پــه لعنــت بــه ځــان بـدنام کـا[32]

دین اسلام یو فطرتي دین دے. د انسان په خوبیانو کښې یوه لویه خوبي پاکي هم ده. په پاکۍ باندې اسلام ډېر زور ورکړے دے او دې له ئې د نیم ایمان برخه ورکړې ده. د اسلام

په عباداتو کښې نمونځ يو مهم رکن دے ددې د اداکولو خپل شرطونه دي په دغه شرطونو کښې وړمبے شرط د پاکوالي دے. په قران مجيد کښې ددې په حقله داسې راغلي دي:

فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَ امْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَ اَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ[33]

ترجمه: پس اوينځئ خپل مخونه، لاسونه تر سنګله پورې او د سر مسح اوکړئ او د پړکو پورې پښې اوينځئ.

دغه شان حديث شريف هم د صفائۍ په حقله داسې وائي:

الطهور شطر اليمان. الطهور نصف اليمان[34]

ترجمه: پاکوالے د ايمان د برخو نه دے. پاکوالے نيم ايمان دے.

خوشحال بابا د پاکۍ مسئلو ته په جوت نظر کتنه کړې ده. څنګه چې اسلام د صفائۍ په حقله زور ورکړے دے داسې بابا هم په خپلو اشعارو کښې په ډېر ښکلي ډول او واضح انداز کښې بيان کړی دے لکه:

د نمانځه په باب راغلي
په قران کښې خدا ے وئيلي
د اودس سره مونځ ښه دے
بے اودسه مونځ هيڅ نه دے
بے اودسه چې مونځ کاندي
کفر ورشي په دے باندي[35]

اسلام يو مکمل دين دے. په دې کښې د ژوند د تېرولو د هر اړخ خپل ټاکلي اصول او لارې چارې ورکړې شوي دي. يو وګړې به په چاپېرچل کښې څنګه ژوند کوي. الله تعالی انسانانو ته په معاشره کښې د ژوند تېرولو له مال واسباب ورکړے دے د يو انسان په بل باندې حقونه وي په دې حقونو کښې يو حق د چاپېرچل نه د بې کسۍ او غربت ختم والے وي. کوم خلق چې شتمند وي هغه به د خپل مال نه غريبو خلقو له برخه کوي. دغه برخې ته الله تعالی د زکوٰة نامه ورکړې ده. او که چرې په غوره ډول سره خلقو زکوٰة ورکړو نو د نړۍ په مخ به يو وګړے هم غريب پاتې نه شي.

دغه زکوٰة په کومو خلقو ويشلے شي. الله تعالی دغه کسان په خپل خوږ کلام کښې په ښائسته ډول سره ښودلي دي لکه:

اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ وَ الْمَسٰكِيْنِ وَ الْعٰمِلِيْنَ عَلَيْهَا وَ الْمُؤَلَّفَةِ قُلُوْبُهُمْ وَ فِى الرِّقَابِ وَ الْغٰرِمِيْنَ وَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ ابْنِ السَّبِيْلِ فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ وَ اللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ[36]

ترجمه: بې شکه مال د صدقې د فقیرانو، مسکینانو اوڅوک چې په دې بابت کار کوي، د چا چې د اسلام سره مینه وي او د غلامانو د اذادلو، قرض دارو او مسافرو دپاره دے او الله تعالي علم او حکمت والا دے.

خوشحال بابا د زکوٰة په حقله ډیر په خلاص متن لیکل کړي دي او ځینې شعرونه خو ئې بېخي د قران مجید نس راوړے دے لکه:

د زکـــــوٰة دي اووه ګروهــــــه
چــې پــرې روغ دے بــے اندوهــه
اول روغ پـــــه فقیــــران دے
دویـــم روغ پـــه درویشـــان دے
دریـــم روغ پـــــه عـــاملین دے
پـــه تحصـــیل ئـــې تعیـــین دے
بیـــــا مؤلـــــف القلـــــوب دي
کـــه اوس نـــه اخلـــي هـــم خـــوب دي
بیـــا هغـــه چـــې فـــي الرقـــاب دي
ځـــان ئـــې وپیـــرو د کریـــاب دي
شـــپږم ګـــروه ئـــې عـــازمـــین دي
چـــې ترفـــرض لانـــدې غمګـــین دي
اووم فـــــــي ســـــــبیل الله دي
چـــې غـــازیـــان د حـــق د راه دي
بیـــــــا د لارې مســـــــافردي
چـــې خـــوردن وتـــه نـــاظر دي[37]

د اسلام په پنځه لویو ستنو کښې یوه مهمه ستن د حج بیت الله ده. حج د مسلمانانو د عروج په دورو کښې یوه لویه غونډه وه چې د مسلمانانو حکمرانانو لوے لوے ستونزې به ئې د حج په موقع سرته رسولې. حج په اصل کښې زیارت ته وئیلے کېږي او دا زیارت د الله تعالیٰ د کور، زمونږ د خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د قبر زیارت او د پاکو ځایونو لیدل کتل او د هغو په لاره تلل دي. په حج کښې الله تعالیٰ مونږ له لوے لوے ثوابونه او اجرونه ګرځولي دي. حج

په هاغه مسلمانانو باندي فرض دے څوک چې د حج کولو توان لري. د حج د فرض کولو په لړ کښې الله تعالیٰ په خپل پاک کلام کښې داسې فرمائي:

و حج البيت من الستطاع اليه سبيلا [38]

ترجمه: او هاغه کسان دې حج د بيت الله اوکړي څوک چې ددې طاقت او توان لري.

د حج د فرض کيدلو خپل شرطونه دي چې دغه شرطونه په چا کښې پوره وي په هغه حج فرض دے.

خوشحال بابا چې په دين باندي ئې ځان قربانوو د حج په حقله دغه شرطونه ډير په ښائسته ډول سره وړاندې کړې دي او داسې وائي:

پــــه اووه شـــــرطه فـــــرض کيـــــږي
حـــج پـــه دا کـــا څـــوک پـــوهيږي
پـــه عاقـــل دے پـــه بـــالغ دے
چـــې بنـــده نـــه دے فـــارغ دے
بـــل کـــافر نـــه وي ديـــن دار وي
بـــل تنـدرست بـل چـې مالـدار وي
چـــــې خطـــــر نـــــه وي د لارې
اووه اوشـــول کـــه ئـــې شـــمارې [39]

د پورته بيان شوو اشعارو او دليلونو نه دا خبره لکه د نمر ځرګنده ده چې خوشحال بابا د ډيرو ستونزو، کارونو، مشغلو او ذمه وارو سره سره خپل دين اسلام له څومره وخت ورکړے دے او خپل اولس ئې په خپله ساده او سوچه پښتو کښې د اسلام په مهمو مسئلو او د هغې حل کولو له کوټلي ګامونه پورته کړي دي. دا خبره مونږ په ډاګه کولے شو چې بابا د اسلام يو پوهه او زيرک عالم وو او د دين په باريکو ګرانو مسئلو ئې ډير د زړه نه کار کړے دے.

# حوالې

1. دوست محمد خان کامل مهمند، خوشحال خان خټک سوانح حیات، شاہین بکس، پشاور، سن اشاعت ۱۹۵۱، صفحه ۶۰۔
2. القران، سورة الفاتحه، پاره نمبر ۰۱، ایت نمبر ۰۴۔
3. میاں سید رسول رسا، ارمغان خوشحال، قصیدې، اول ټوک، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱، مخ ۰۲.
4. أحاديث صحيح مسلم كلها صحيحة، أخرجه البخاري في ((صحيحه)) في الايمان، باب: حب الرسول صلى الله عليه وسلم من الايمان برقم (15) والنسائي في الايمان، باب: علامة الايمان 8/114-115 - وابن ماجه في ((سننه)) في المقدمة، باب: في الايمان برقم (67) انظر ((التحفة)) برقم (1249)
5. میاں سید رسول رسا، ارمغان خوشحال، قصیدې، اول ټوک، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱، مخ ۰۳.
6. میاں سید رسول رسا، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱، مخ ۱۳۲.
7. پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک، د پښتو ادبي تحریکونه، فاسټ ټریک کمیونیکیشن، پېښور، ۲۰۱۸، مخ ۱۹۴.
8. القران، پاره نمبر ۱، سورة البقرة، ایت ۱۸۳۔
9. عبدالقیوم مشواڼي، د خوشال خان خټک کلیات، اسد دانش مطبع، کلوله پشته، د ځلورمې حوزې ځلور لارې، مروارید هوټل، ملي مارکېټ، ۲۰۱۳، مخ ۱۰۲۰.
10. موطا امام مالک روایة ابن القاسم: [157] تخریج الحدیث: [وأخرجه البخاري 2009، ومسلم 173/759، من حديث مالك به.
11. میاں سید رسول رسا، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱، مخ ۸۷۶
12. هم دغه اثر، مخ ۸۷۶
13. القران، پاره نمبر ۱۳، سورة ابراهيم، ایت ۳۵۔
14. الروض الأنف للسهيلي، 1: 413-414، طرح التثريب في شرح التقريب للعراقي، 4: 185)
15. همیش خلیل، فراق نامه، قامي مکتبه پېښور، ورمبې اشاعت، جون ۱۹۸۳، مخ ۲۲.
16. القران، پاره نمبر ۲۳، سورة یٰسین، ایت ۷۸
17. القران، پاره نمبر ۰۸، سورة الاعراف، ایت ۰۸۔
18. میاں سید رسول رسا، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱، مخ ۸۰۷-۸۰۶
19. ا لقران، پاره نمبر ۰۷، سورة المائده، ایت نمبر ۵.
20. عبدالقیوم مشواڼي، د خوشال خان خټک کلیات، اسد دانش مطبع، کلوله پشته، د ځلورمې حوزې ځلور لارې، مروارید هوټل، ملي مارکېټ، ۲۰۱۳، مخ ۹۹۵.
21. القران، پاره نمبر ۱۵، سورة الاسرا، ایت ۲۳تا۲۴۔

[22]. میاں سید رسول رسا ، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱ ، مخ ۸۱۵

23.القران، پارہ نمبر ۲۸، سورۃ التحریم، ایت نمبر ۸

[24]. مولانا عطا الله ساجد ، شرح سنن ابن ماجه ، صفحه نمبر: 4250

[25]. میاں سید رسول رسا ، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱ ، مخ۸۱۲.

[26]. القران، پارہ نمبر ۳۰، سورۃ الماعون، ایت ۴تا۷۔

[27]. میاں سید رسول رسا ، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱ ، مخ۸۱۷.

[28]. القران، پاره نمبر ۲۳ ، سورةالزمر، ایت نمبر ۹.

[29]. میاں سید رسول رسا ، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱ ، مخ۸۱۸.

[30]. هم دغه اثر، مخ۸۱۸.

31. الإمام أحمد المصدر: المنتخب من العلل للخلال الجزء أو الصفحة: 119 حكم المحدث.

[32]. عبدالقیوم مشوانی، د خوشال خان خټک کلیات، اسد دانش مطبع، کلوله پشته، د ځلورمې حوزې ځلور لارې، مرواريد هوټل، ملي مارکيټ، ۲۰۱۳ ، مخ۱۰۰۱ - ۱۰۰۰.

[33]. القران، پارہ نمبر ۶، سورۃ المائدہ ، ایت نمبر ۶۔

[34]-أبو مالك الأشعري | المحدث : الألباني | المصدر : صحيح الجامع | الصفحة أو الرقم : 3957 | خلاصة حكم المحدث : صحيح | التخريج : أخرجه مسلم (223) باختلاف يسير.

[35]. میاں سید رسول رسا ، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱ ، مخ۸۲۲.

[36]. القران، پارہ نمبر ۱۰، سورۃ التوبہ، ایت نمبر ۶۰۔

[37]. عبدالقیوم مشوانی، د خوشال خان خټک کلیات، اسد دانش مطبع، کلوله پشته، د ځلورمې حوزې ځلور لارې، مرواريد هوټل، ملي مارکيټ، ۲۰۱۳ ، مخ۱۰۴۷-۱۰۴۲.

[38]. القران، پارہ نمبر ۳، سورۃ العمران، ایت نمبر ۹۷۔

[39]. میاں سید رسول رسا ، ارمغان خوشحال، ماسټر پریس محله جنګي، پېښور، ۲۰۰۱ ، مخ۸۷۸.

1. Dost Muhammad Khan Kamil Momand, Khushal Khan Khattak Sawaneh Hayat, Shaheen Books, Peshawar, asha'at 1951, safha 60
2. Al-Quran, Suratul Fateha, Para number 1, ayat number 4
3. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, qasedey, awal tok, master press mohala jangi pekhawar 2001, makh 2
4. Ahadees, sahih muslim kulha, sahiha tul akhrajul bukhari fil iman bab, hube rasool minal iman, barqam 15, wanisai fel iman, bab, alamatul iman, 115-8/114, wa ibne maja fi sunan fi muqia, bab: fil iman barqam (67) nazar barqam 1249
5. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal
6. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal
7. Prof. Dr. Raj Wali Shah Khattak, da pukhto adabi tehreekoona, fast track communication pekhawar, 2018 makh 192
8. Al-Quran, para number 1, suratul baqara, ayat 183
9. Abdul qayum mashwani, da khushal khan khattak kulyat, asad Danish matba, klola pashta, da saloramy hozey salor larey, marwareed hotel, mili market 2013, makh 1060
10. Mo'ta amam malik, riwayat ibn-e-qasim: (57) takhreejul hadees, wa akhrejtul bukhari 2009, wa muslim 173/759, man hadees malik beh.
11. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, makh 876.
12. hum dagha asar, makh 876
13. Al-Quran, para number 13, surat Ibrahim, ayat 35
14. Alrozul alaif lilsahili, tarah tarteeb fi shara qreeb lil Iraqi, 4: 185
15. Hamish Khalil, firaq nama, qami maktaba pekhawar, wrombey asha'at, June 1983, makh 66
16. Al-Quran, para 23, surat Yaseen, ayat 78
17. Al-Quran, para 8, surat Araaf, ayat 8
18. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, makh 806, 807
19. Al-Quran, para 7, surat Maida, ayat 5
20. Abdul Qayum Mashwani, da khushal khan khattak kulyaat, makh 995
21. Al-Quran, para 15, surat Asraa, ayat 23, 24
22. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, makh 815
23. Al-Quran, para 28, surat tehreem, ayat 8
24. Maulana Ataullah Sajid, Shara Sunan Ibne Maja, safha 4250
25. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, makh 816
26. Al-Quran, para 30, surat Ma'oon, ayat 4 to 7
27. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, makh 817
28. Al-Quran, para 23, surat zumar, ayat 9
29. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, makh 818
30. hum dagha asar, makh 818
31. Al Imam Ahmad Masdar: almuntakhib minal alal, lilmakhlal aljuz ao safha: 119 hukuml hadees
32. Abdul Qayum Mashwani, da khushal khan khattak kulyaat, makh 1001, 1002
33. Al-Quran, para 6, surat Maida, ayat 6
34. Abu Malik Al-Ashari/ Muhadis: Albani, Almasdar: Sahihul jami/ alsafha ao al raqam: 3957, khulasata hukumul takhreej: akharaja muslim (223) bakhtilaf yaseer.
35. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, makh 822
36. Al-Quran, para 10, surat Atauba, ayat 60
37. Abdul Qayum Mashwani, da khushal khan khattak kulyaat, makh 1046, 1047
38. Al-Quran, para 3, surat Imran, ayat 97
39. Mian Syed Rasool Rasa, armaghan-e-khushal, makh 878